(١)

## د ګډ کار کولو روحيه او ضوابط

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمايلي: « **وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ**»ژباړه:« و [اې پېغمبره (ص)!] دوی ته ووایه: «تاسي عمل کوئ! الله، د هغه پېغمبر او مؤمنان ټول به وګوري چي ستاسي کړه وړه اوس څه دي، بيا به تاسي د هغه ذات لوري ته ور وګرځول شئ، چي په پټو او ښکاره ؤ هر څه باندي پوهيږي او هغه به تاسي ته در وښيي چي تاسي څه کول»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زموږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

په واقعيت کي ملتونه په خبرو او شعار ورکولو نه جوړيږي، بلکي په علم، بخښني، او فداکاري سره جوړيږي، او د يو ملت د جوړوني او پرمختګ لپاره يو د مهمو کارونو څخه په جديت او دقت سره کار کول دي، ځکه الله تعالی فرمايي:« **وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ**»**ژباړه:« و [اې پېغمبره (ص)!] دوی ته ووایه: «تاسي عمل کوئ! الله، د هغه پېغمبر او مؤمنان ټول به وګوري چي ستاسي کړه وړه اوس څه دي. بيا به تاسي د هغه ذات لوري ته ور وګرځول شئ، چي په پټو او ښکاره ؤ هر څه باندي پوهيږي او هغه به تاسي ته در وښيي چي تاسي څه کول.»** همداسی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: په

ريښتيني سره الله تعالی خوښوي هر يو له تاسو څخه کوم کار چي پکښي د دقت او اتفاق څخه کار اخيستل شوی وي، نو هم دين او هم هيواد زمونږ څخه دا غواړي چي زيار وباسو، او کار وکړو او توليدات ولرو، مخصوصا پداسی حال کې چې زمونږ دين د کار، زيار او په کار کي د دقت کولو دين دی.

کله چې يو وګړی د ټولني د جوړښت يو اساسي عنصر وي، نو خپل حقيقي رول پدغه جوړښت کې هغه وخت اداء کوي چې د ټولني نورو غړو سره په سوله ارامتيا او د ټولني د پرمختګ لپاره سم کار وکړي، ځکه کله يو انسان کولای شي په يواځې ځان يو کار سرته ورسوي خو که چيرته خپله مفکوره او نظر د نورو د نظر او فکر سره يو ځاي کړي نو بی له شکه چې د کار نتيجه به يی ګټوره او ښه وي، نو پردی اساس اسلام د ټولنيز کار مرتبه لوړه کړی ده او هغه يي د هيوادونو د بنسټ او تمدونونو اساسي عامل بللی دی، ځکه پدغه کار ډيره انرژي پانګه اچونه کيږي او ډير تصميمونه سره يو ځاي او متحده کيږي، او هغه ګډو هدفونو ته رسيدو لپاره چې د ټولو خلکو د خير او ښيګڼي سبب ګرځي ډيرې همکاری سرته رسيږي، الله تعالی فرمايي:**« وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ» ژباړه:« کوم کارونه چي د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چي د ګناه او تيري وي، په هغو کښي د هيچا ملاتړ مه کوئ».**

او څوک چې د قرانکريم په خطاب کې فکر وکړي نو هغه اياتونه به وګوري چې د ټولنيز کار د ترسره کولو روحيه او د کارونو ترسره کول د يو ټيم په توګه هڅونه پکې ډيره زياته شوي ده، او د هغي جملي څخه د الله تعالی دغه وينا چې د ټولنيز عبادت په هکله ده فرمايي:**« يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ»ژباړه:« ې خلکو! د خپل هغه رب بندګي غوره کړئ چي ستاسو او ستاسي څخه د مخکينيو تېرو شوېو خلکو ټولو هستوونکی دی؛ ښايي چي تاسي له عذابه ځانونه**

وژغورئ»، او د لمونځ په هکله چې د اسلام دين د لوړو شعايرو څخه دی د جمع په لفظ داسی فرمايي:«وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ» او په بل ايت کې فرمايي:«يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ۩» ژباړه:« اې مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب بندګي وکړئ او ښې چارې سرته ورسوئ. ښايي چې بری درپه برخه شي»، او همداسې الله تعالی خپل پيغمبر ته په خطاب کې داسې فرمايي:«وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا» ژباړه:« او خپل زړه د هغو خلکو په ملګرتيا ډاډه کړه، چې د خپل روزونکي، پالونکي، واکوال د خوښې غوښتونکي، سهار او ماښام هغه ته بلنه ورکوي. او له هغو څخه هيڅکله سترګې مه اړوه. ايا ته د دنيا ښکلا خوښوې؟ - د يو داسې چا اطاعت مکوه چې د هغه زړه موږ له خپل ياد څخه غافل کړيدی او د خپل نفس پيروي يې غوره کړېده او کړنلاره يې په افراط او تفريط باندې ولاړه ده»، او په بل ځای کې فرمايي:« وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْ» ژباړه:« ټول يو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونيسئ او تيت و پرک کيږئ مه»، او الله تعالی مونږ ته د تفرقې او اختلاف څخه خبرداری راکوي او فرمايي:« وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ» ژباړه:« او د الله او د هغه د پيغمبر امر منونکي اوسئ؛ او په خپلو منځو کښې شخړه مه کوئ، که نه نو په تاسې کښې به کمزوري پيدا شي، برم (د مقاومت توان) به مو لاړ شي. له زغم څخه کار واخلئ، په يقيني توګه الله د صابرانو ملګری دی».

او بې له شکه د کارونو سرته رسو ل پداسې ټولنيزه روحيه باندی د ټولني د وګړو ترمنځ د دوستی، وروروليی، او مهرباني ستني پياوړی کوي، او بيا د الله تعالی دغه وينا پرې پلي کيږي: « وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ»

**ژباړه:« او دا ستاسي اُمت، يو اُمت دی»**و او همداسی د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه حديث هم پری پلي کيږي چې فرمايي: د مسلمانانو مثال په دوستی او مهرباني کې د يو بدن د غړو په شان دی، هرکله چې د بدن يوه برخه دردېږي نو ټول بدن ورسره په تبه او درد کې وي.، کله چې يو مشر وغوښتل چې د اتحاد او اتفاق اهميت خپلو زامنو ته ور زده کړي او غوښتل يي چې دا ورته بيان کړي چې اتحاد د قوت او ځواکمني سبب دی، او غوښتل يی چې دوي د اختلاف او بی اتفاقي له خطر څخه وژغوري نو يوه ګېډۍ نری لختي يی رواړل او وی ويل له تاسو څخه کوم يو کولاي شي دا ګېډی په يوه ضربه ماته کړي؟ نو ټولو زامنو کوښښ وکړ چې دا ګېډی ماته کړي خو ونشو کړاي، بيا ګېډي يي پرانسته او هر يوه لخته يي يوه يوه خپلو زامنو ته په لاس ورکړه او هغوي ته يي وويل چې اوس دا لختي ماتی کړی نو هريو دا لختي په يوه ضربه ماتی کړی، نو بيا دغه مشر وويل:

کله چې لختی يو بل سره وی ماتی نشوي** کله چې يو بل نه بيل شو په يو ضربه مات شول.

او قرانکری مونږ ته ډيری ښايسته نمونی او مثالونه بيان کړي چې ټول د ټولنيز کار لپاره هڅونه کوي، او دا توضيح کوي چې د ټولنيز کار د لوړو هدفونو ته د رسيدو لپاره څه ډول اغيز لري، ليدل کيږي کله چې حضرت ابراهيم عليه والسلام د کعبی شريفی د جوړولو لپاره وګمارل شو، خپل ځوی اسماعيل ته ورغی او وی فرمايل: ماته الله تعالی د يو کار د سرته رسولو امر کړی، حضرت اسماعيل عليه والسلام وويل: نو هغه څه چې تاته الله تعالی امر کړی ترسره کړه، وی ويل:آيا ته ما سره پدغه کار کي مرسته کوی؟ اسماعيل وويل: حتما زه له تاسره مرسته کوم، وفرمايل: الله تعالی ماته امر کړی چې دلته يو کور جوړ کړم، نو پدغه وخت کې وو چې دواړو يو ځاي وړه په وړه ددغه کور ستنی يي پورته کړی نو حضرت اسماعيل عليه السلام تيږي راوړلي او ابراهيم عليه والسلام په

جوړولي، نو دوی یو بل په مرسته لومړني کور د ځمکی په سر د بندګانو لپاره جوړ کړ، نو قرانکریم دغه لوړ وقف پخپله دغه وینا کې تلپاتی کړه: **« وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ» ژباړه: « او هغه وخت (یاد کړه) چي کله ابراهیم (ع) او اسمعیل (ع) ددې کور دېوالونه پورته کول، نو دُعا یې کوله: "اې زموږ ربه! زموږ څخه دا خدمت قبول کړه. ته د هر څه اورېدونکی او په ټولو شیانو پوهېدونکی یې؛».**

او د کهف په سورت کي الله تعالی مونږ ته د ذوالقرنین په کیسه کې د ټولنیز تضامن او د همکاریو او ټولنیز کار په هکله ښکلی او ښایسته مثالونه بیانوي، نو کله چې دا عادل پاچا یو قوم ته ورسیدو چې نه ده هغوي پیژندل او نه هغو دا پیژندلو، نو هغوی دده څخه د مرستي غوښتنه وکړه او هغه هم د هغو غوښتنو ته لبیک وویلو، خو لیکن هغوي یي د ځان سره د مرستي کولو لپآره ملزم کړل، او هغوي یي په کار کي شریک کړل او د هغي د توان او انرژي څخه یي ګټه پورته کړه، نو ټولو یو بل سره اوږه په اوږه مرسته او کار وکړ او دغه لوی ساختمان یي جوړ کړ چې د دوي د ساتنی لامل د یاجوج او ماجوج څخه وو، پدی هکله قرانکریم داسی فرمایي: **« حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوۡمٗا لَّا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ قَوۡلٗا قَالُواْ يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ خَرۡجًا عَلَىٰٓ أَن تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَهُمۡ سَدّٗا قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيۡرٞ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُمۡ رَدۡمًا ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلۡحَدِيدِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيۡنَ ٱلصَّدَفَيۡنِ قَالَ ٱنفُخُواْۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارٗا قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفۡرِغۡ عَلَيۡهِ قِطۡرٗا فَمَا ٱسۡطَٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا» ژباړه: « تردې پوري چي کله د دوو غرونو منځ ته ورسېدی، نو هلته یې یو داسي قوم بیا موند چي په ډېره سختۍ سره په کومه خبره پوهېدی* هغو خلکو وویل: "اې ذوالقرنېنه! یاجوج او ماجوج پدې سیمه کښي فساد خوروي، نو ایا موږ تا ته ددې لپاره څه محصول درکړو چي زموږ او د**

**هغو په منځ کښي يو بند واچوي؟* هغه وويل: "څه چي زما پروردګار ما ته را په برخه کړيدي، هغه ډېر دي. تاسي په بشري قوه زما سره مرسته وکړئ، زه ستاسي او د هغو په منځ کښي بند اچوم* ما ته اوسپنيزي تختې راوړئ!" - په پای کښي چي کله هغه د دواړو غرونو تر منځ کنډو ډک کړ، نو خلکو ته يې وويل چي اوس اور په پوکولو بل کړئ، تر داسي اندازې پوري چي کله(دغه د اوسپني ديوال) بيخي لکه د اور په شان سور شو، نو هغه وويل: "راوړئ چي اوس پدې باندي ويلي کړي مس وشڅوم* (دغه بند داسي ؤ چي) ياجوج ماجوج ورباندي نشول را ختلای او په هغه کښي سوری کول له دې څخه هم زيات ګران ؤ».**

او موسی کليم الله د الله تعالی نه دا غوښتنه وکړه چې هغه د خپل ورور هارون په ذريعه تقويت کړي تر هغه کار او وظيفه چې الله تعالی ورته سپارلي په هغه کې دده سره مرسته وکړي، پدې هکله الله تعالی د موسی عليه السلام په ژبه داسې فرمايي: **« قَالَ رَبِّ ٱشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِيٓ أَمْرِي وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي يَفْقَهُواْ قَوْلِي وَٱجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي هَٰرُونَ أَخِي ٱشْدُدْ بِهِۦٓ أَزْرِي وَأَشْرِكْهُ فِيٓ أَمْرِي كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا» ژباړه:« موسی (ع) عرض وکړ: "پروردګاره، زما سينه راته پرانيزه* او زما کار ما ته اسانه کړه؛* او زما د ژبې غوټه وسپړه؛* تر څو چي خلك زما په خبره وپوهېدلای شي؛* او زما لپاره زما د خپلي کورنۍ څخه يو مرستيال وټاکه؛* هارون چي زما ورور دی؛* د هغه په وسيله زما ملا پياوړی کړه؛* او هغه زما په کار کښي برخه وال کړه،؛* تر څو چي موږ ښه ستا پاکی بيان کړو؛* او ښه ستا يادونه، ستاينه خپره کړو* ته تل زموږ د حال څارونکی يې.».**

او همداسی که يو څوک د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سيرت په هکله فکر وکړي نو ګوري چې په هغه کې ډيری ځايي د مرستي همکاري ټولنيز مشارکت او ټولنيز کار د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په ژوند کې د صحابه کرامو سره وجود لري، حضرت عثان بن عفان رضي

الله عنه فرمايی: قسم په الله تعالی مونږ تل په سفر او کور کي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره يوځاي وو، تل يي مونږ سره په لږ او ډيرو کې به يی همکاری کوله.
همداسی رسول الله صلی الله عليه وسلم تل په کار او جوړوني کي د هغوي سره خپله همکاری کوله، او هغوي يي اتفاق او اتحاد او د اختلاف څخه د ځان ساتني ته هڅولي، لکه څنګه چې د خندق په ورځ براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي: ما د احزاب په جګړه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم وليد، او سپينه خاوره يي په مبارک نس پرته وه او هغه صلی الله عليه وسلم ويل:يا الله! که ته نه وايی مونږ د حق په لوری هدايت او لاربښود کيدلو نه، او نه به مو صدقه ورکوله او نه لمونځ اداء کولو، نو ای الله! مونږ ته ارامتيا نازله کړه، او که د دښمن سره مخامخ شو زمونږ قدمونه ثابت کړی، هغوی پرمونږ بغاوت کړی، او که هغوي فتنه غواړي مونږ نه غواړو.
او کله چې حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه وغوښتل دری سوه د خرماو ونی کينوي چې د هغو پواسطه ځان د غلامی نه آزاد کړي، پيغمبر صلی الله عليه وسلم خپل يارانو ته وويل: خپل ورور سره مرسته وکړئ، سلمان فارسی رضی الله عنه فرمايي: نو هغوي ماسره د ونو په راکولو مرسته وکړه، يو شخص ديرش ونی بل شل ونی او دريم شخص پينځه لس ونی او بل شخص هر څومره چې يي درلودل، تر هغه چې ماته دری سوه ونی راجمع شوی، نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ماته امر وکړ تر څو د نيالګيو کينولو لپآره کيندی جوړی کړم او وی فرمايل: هرکله چې د کيندو د جوړولو نه خلاص شوی ماته خبر راکړه زه پخپل لاس هغه کينوم، سلمان فارسی وايي: نو ما کندی جوړي کړي او يارانو ماسره مرسته وکړه، تر هغه چې هغه مو خلاص کړ او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ورغلم او هغه می خبر کړ، نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ماسره ووتلو

او مونږ هغه صلی الله علیه وسلم ته نیالګي نژدي کول او هغه صلی الله علیه وسلم په خپلو مبارکو لاسونو کینول.
پیغمبر صلی الله علیه وسلم اشعریان په ډیرو نیکو صفاتو ستایلي دي ځکه د هغوي په نزد د ټولنیز او جمعی کار روحیه په ډیرو ناورو او سختو حالاتو کې د هغو په تصرفاتو او افعالو کې په غالب ډول وجود لرلي، لکه څرنګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:اشعریان کله چې په جګړه کې د هغو نه کونډي پاتي کیدلی، او یا هم د کورنیو او اولادونو خواړه یي  په مدینه کې کمیدل، نو هر څه چې یي درلودل ټول به یي په یو ټوټه کې راټولول بیا هغه د ټولو په منځ کې په یوه کاسه یي تقسیمول، نو هغوي زما او زه د هغو یم.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

دا ټولنیز او جمعی کار چې مونږ ورته هڅه کوو دا هغه کار دی چې جوړونه کوي او ویجاړي له منځه وړي، یو بل سره یو ځاي کوي او نه بیلوي، او دا په شرعي اساسونو لکه ټولنیز تضامن د اولادونو ترمنځ په ټولنه کې استواروي، ترڅو د ټولني د اولادونو ترمنځ لوړه، او اړمند ونه لیدل شي، یا پر تربیوي او علمي اساسونو لکه د علماؤ مرسته د علمي خیرنو په برخه کې  د زده کوونکو کارونه د زده کړي په برخه کې استواره دي، او یا د ملي اساسونو لپاره کار او زیار د سولي او د هیواد او ټولني پرمختګ په هره برخه کې استواره ده.

دا جمعی عمل د اعمال په معنی ندي چې په ویرانو کې په اساسونو باندی ولاړ وي تر څو خلک د ویجاړی، قتل وینه تویونه او د هیوادونو وروانونه او یا ددی لپآره زیار وباسی چې څنګه یو هیواد کمزوري شي او لمنځه یوړل شي خلک جمع کوی. داسی ادعاګاني پر دروغ او جعلي حقیقتونو ولاړ دي، او هیڅ یو دین، هیواد او یا وجدان پوري تړلي ندي.
همدارنګه هغه ټولنیز کار چې مونږ پرهغه هڅونه کوو هغه عبارت دی له کار زیار د دین د منافعو او د هیواد او د انسانیت د جوړونی لپآره دی، او دا هغه متلازمات دي چې یو بل نه بیلیږی، نو مونږ څومره هغه ته اړتیا لرو ترڅو داسي روحیه خپل او د خپلو بچیانو په نفسونو کې ځاي پر ځاي کړو او هغه د ژوند په منهج او طریقه بدله کړو، ترڅو خلک د هغه تر سیوري لاندی ژوند وکړي او ملګرتیا او مهرباني د ټولني د بچیانو په منځ کې خپره شي، او خپل ملت په هره برخه کې تر هغه کچه پوري پرمختللي کړو چې د هغه د حال سره مناسب وي، او مونږ ټینګار کوو هرکله چې د مصر د بچیانو ترمنځ د ټولنیز کار روحیه خپره شي دوي کولاي شي هغه کارونه سرته ورسوي چې نور یي ناممکنه او نه کیدونکي بلي، او تجربي او ژوند څخه پخواني او اوسني واقعیتونه ددغه ادعا لپاره غوره دلیل دی.
نو یا الله! مونږ پخپل هیواد کې په امن او امان کې وساتي، مخکښ او مشرانو ته مو په چارو بریا په برخه کړی، او زمونږ هیواد د مکرجنو له مکره او د مفسدینو له فساده په امان کې ولري.